مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنګروال ۲۰۱۹/۰۳/۰۴

# کيڼ اړخی اتمراوبني اړخی حکمتيار،
# له خپل سياسي مورچله پرشانشول!؟


شهسوار سنګروال

که چېرې په ټول افغانستان کې داسي يوه ټول پوښتنه وشي، چي افغانستان کومي نظري،کومي ايډيالوژۍ، کوم اند او فکر ډېر ولړزوه ؟ او که له دې سره جوخته دا پوښتنه هم راپورته شي، چي د دغو نظريو ترشا کومو ولاړو هېوادونو افغانستان ته ډېر زيانونه واړول...؟

بنايي په دغه نظر پوښتنه کې، وېشلي اندونه او نظرونه مخې ته راشي... يوشمېر هغه کيڼ اړخي، چي ترشايي شوروي او شوروي پلوه هېوادونه ولاړوو او يا د شوروي ټانکونو پرمټ واک ته ورسېدل. نوهرومرو به دغه کيڼ اړخي انګېري، چي موږ او زموږ دوستانو افغانستان ودانوه، خوچاپرېښنبودو...

د دوئ اډيالوژيکي او فکري سيالان بيا په دې اند دي، چي ګنې د وطن رښتني بچيان موږيو، خو موږ امريکايانو پخپلو کې وجنګولو، دېته يي پرې نښودو، چي د وطن د جوړولو جوګه شو.

دوئ داخبره هم کوي، چي موږ کمونستانو پخپلو کې واچولو، ګڼشمېر کمونستان د احمدشاه مسعود تر شا ودرېدل او دغه ناورين ته يي لاره پرانسته...

بنايي درېيمه ولي غوښنه برخه هغه کسان وي، چي دوئ په خپلو خرګندونو کې رښتني او ژمن وي. دوئ کين اړخي د افغانستان د ښمنان ګڼي، چي يوه پردئ ايډيالوژي، چي په يوه سنتي هېواد کې، چي د اسلام سپېڅلي دين ورته د ژوند رښتني برخه ده، هېوادته راوړه او پخپل سياسي اوعملي ژوند کې دا وښوده، چي سرولښکرو ته يي لاره پرانسته او افغانستان يي پرې اشغال کړ.

دغه وګړي بل لورته دا هم له ياده نه باسي ، چي د بېلګې په توګه کابل چا په سرو وينو ولمبوه ؟ دوئ ټوله پوره په ښي اړخو سخت درېځو اچوي او په دې ټينګار کوي لکه خرنګه، چي کيڼ اړخو سخت درېځو، چي پردئ ايډيالوژي افغانستان ته راوړه، دارنګه ښي اړخو هم پردئ ايډيالوژي زموږ ګران هېواد افغانستان ته راوړه او دغه هېواد يي د سياسي سيالئ ډګروګرزوه...

د افغانستان روانه غميزه او سياسي کړکېچ، چي اوس د افغانستان وګړي ورسره لاس او ګرېوان دي، د دې ټولو ستر لامل زموږګاونډيان دي. لومړی همغه دوخت شوروي او اوس د هغه شوروي اتحاد ځاي ناستې روسيه ، چي لا اوس هم د افغانستان په کورنيو چارو کې نيغه په نيغه لاسوهنه کوي.

وليدل شول، چي د طالبانو په ګډون د افغانستان يوشمېرسياسيون، د وخت مجاهدين او کمونستان غاړه په غاړه روسېي ته لاړل، چي هغوئ ورته سوله ډالۍکړي. د دې پرځاي، چي روسي نه د افغانستان د جنګ تاوان واخلي، د هغوئ ځولی ته يي ځان وغورځوه ،چي په خداې به کېږي او بيا پرتاسو، موږ ته سوله راولی...هغسي خو هم استاد رباني خپله سياسي قبله لا د مخه بدله کړې وه، چي د لومړي ځل لپاره روسي ته لاړ.

نه يوازې دغه کار رباني وکړ بلکې د مې په مياشت(۲۰۱۷کال)حنيف اتمر روسي ته لاړ، چي د خپل پخواني دوست پېنه د افغانستان چاروته راکاږي، کابلف او له يوشمېر د «کې جي بي» له پخوانيو دوستانو سره، چي په خاد کې ورسره پېژندل وليدل...

له حنيف اتمرسره د روسانو خواخوږي او دوستي هغه مهال لاڅرګنده شوه، چي د فبروري په مياشت کې د افغانستان له پاره ځانګړي استازي ضميرکابلوف د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سره په ترکيه کې وليدل، د پېښو په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټراو سره وغږېدل او بیا د همدې سیاسي پېښو په رڼا کې د ترکی آناتولي خبري آژانس داخبره راپورته کړه، چې کابلوف په دې خبرې بیا بیا ټینګاروکړ، چې د افغانستان ولسمشریزو ټاکنو ته ولاړ نوماند حنیف اتمرد افغانستان د کړکېچ د کابو کولو له پاره وړشخصبیت دی...ده ووېل:«په افغانستان کې هرڅوک پوهېږي، چې اتمر یو موهم سیاستوال دی او په پراخه پېمانه د نورو سیاستوالو له ملاتړنه برخمن دی»...نوموړي د حنیف اتمر دومره ستاینه وکړه، چې خبره غلو او اغراق ته ورسېده او ان افغان ولس ته یو پېغور وو، چې ولې خپل رښتني خدمتګاران نه پېژني؟!
ده له اناتولي خبري آژانس سره مرکه کې غبرګه کړه: «دحنیف اتمر امتیازونه اوغوره والی د انکار وړنه دی. هغه یو بېساری انسان دی، د افغانانو له معیارونوسره سم، داسې اوچت مدیر دی، چې د افغانستان په ستونزو پوهېږي او په دې هم پوهېږي، چې ستونزې څرنګه حل کړي ؟»
که له یوې خوا اتمر د روسې رښتنی خواخوږی دی، چې د کابلوف په اند دی هغه شخصبیت دی، چې د روسې او امرېکې ګټې په افغانستان کې ساتلی شي، خوله بلې خوا ګلبدین حکمتیار بیا له حنیف اتمر نه یوګام وړاندې اخلي، له خپل دوست «ای اس ای» سره دومره ژورې اړیکې لري، چې پرته له شکه دېته چمتودی، افغانستان هغوئ ته په ډالۍ کې ورکړي.تاریخ شاهد دی، چې د ولسمشرمحمد داودخان د واک په مهال، د پاکستان لمنې ته وروغورځېد او د هغه واک یې پخپل وسله وال پاڅون وګواښه. ښایي ډېروته معلومه وي هغه مهال چې دی پاکستان ته وتښتېد د ده پلار په داسې حال کې ، چې داود خان خبرنه وو بندي شو. د محمد داود خان یاور بازمحمد خان منګل ده خبر کړ، چې د حکمتېار په تور د هغه پلارنیول شوی دی...هغه ګړی داود خان امر وکړ، چې د زوې په ګناه پلار ونه نیول شي ، نو دستي خوشې شو.
دا دی اوس ګورو، چې افغانستان د خپلوګا ونډېیو او په دغه لړ کې د پاکستان له خواله څومره راز راز کړاوونو غمیزو او خونړېیو پېښو سره لاس او ګریوان دی...ولې اوس هم حکمتېار د «ای اس ای» په چوپړکې دی.
په دې وروستېیو کې د هند او پاکستان په جنګ کې د اسلامي ګوند دریځ د دوئ له اعلامې نه څرګند شو، چې وې وېل: «د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر کې، چې آزاد کشمیر یې بولي لومړی جارحیت هندوستان پیل کړې دی.» تر اوسه به هیڅ افغان نه وي آورېدلي، چې حکمتیار دې د ډېیورنډ د کرښې په ټړاو، چې د افغانستان ملي مسٔله ده یوه خبره کړي وي.
د حکمتیار په اعلامیه کې په افغانستان یې تورپورې کړی دی، چې: «د پاکستان مخالفو وسله والو ډلو ته یې پخپله خاوره کې سرپناه ورکړې ده. په کندهار کې مېشت بلوچان، چې بیلتون پاله ډله ده او د کراچۍ ښارکې د چین په کونسلګرۍ برید کې لاس درلود.»
وګورئ دلته په ښکاره د افغانستان ملي ګټې له ګواښ سره مخ کوي، د دې خبرې مانا داده که پاکستان پخپله خاوره کې د افغانستان ضدوسله وال ساتي، خو دا کارافغانستان هم کړی دی؛ په اعلامیه کې یو ځاې داسې لولو:«هغه افغانان، چې د پاکستان او هندوستان په شخړه کې د هندوستان پلوي کوي، بې دینه او سیکولردي.»
اوس نو په دې غور په کاردی، تر دا دمه، پاکستان افغانستان ته څومره زیان اړولی دی؟ بیا همداسې هند له هغه سره پرتله کړئ، چې څومره مرسته یې د افغانستان په رغاونه کې کړې ده ؟ که چېرې د حکمتېار موخه دا وي چې له نامسلمانو وګړونه مرسته مه غواړئ، نو دا خوبیا سمه ده! ولې یوه پوښتنه دلته پېداکېږي، چې ولې مو د امریکا په ستنګر افغان الوتکې راغورزولې ؟
په دې ټړاوو ګورئ، چې د اسلامي ګوند په اعلامیه کې څه راغلي دي «متأسفانه ځینې بې شعوره او سېکولر افغانان نه یوازې د پاکستان او هند جنګ ته خوښ دي بلکې د هند پلوي او د پاکستان خلاف ستوغې څرګندونې کوي .»
خو هغه مهال، چې حکمتیار د یوه قانوني او مسلمان ولسمشر محمد داود خان خلاف بغاوت وکړ، بنسټیزه موخه داوه، چې له یوې خوا افغانستان د پاکستان پروړاندې کمزوری کړي او له بلې خوا لوېدیځوال برلاسی شي.
په پاې کې داویلی شوچې،
افغانستان ته نه یوازې شرقي ښکېلاک ډېر زیان ورساوه بلکې همدومره، په یوه حساب لازیات لوېدیځ ښکېلاک افغانستان وځپه او ډول ډول سېاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیز زیانونه یې وراوړول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ